# عقبی ته سفر

ليکوال:
الحاج عزيز محمد (پرديس)
د میدان شهر د خروټو د کلي اوسيدونکی

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

**د کتاب ځانګړنې**

د کتاب نوم: عقبی ته سفر

لیکونکی: الحاج عزیز محمد "درویش"

ډیزاین: محمد جواد "مبارز"

د چاپ کال: ۱۳۹۶ هـ ش

د چاپ شمیر: (۱۰۰۰) جلده

ټلیفون نمبر: ۰۷۰۷۸۵٤۹٤۲

ketabton.com - The Digital Library

# د کتاب لړلیک

د دې کتاب متعلق یو څو خبرې ........ ۱
مرګ د مومن لپاره یوه خدايي ډالۍ ده ........ ۱
د ځنکدن د حالت بیان ........ ۳
د ځنکدن حالت ........ ۴
د شهید احکام ........ ۷
د مړي د لمبولو طریقه ........ ۹
مړي ته د کفن ورکولو طریقه ........ ۱۲
د کفن ورکولو طریقه ........ ۱۲
ښځې ته د کفن ورکولو بیان ........ ۱۳
د جنازې د وړلو بیان ........ ۱۴
د جنازې د لمانځه مسایل او طریقه یې ........ ۱۶
د جنازې د لمانځه ترتیب او طریقه یې ........ ۱۹
د جنازې د لمانځه فرضونه ........ ۲۰
او د جنازې سنتونه درې دي: ........ ۲۰
د مړي د ښخولو بیان او مسایل ........ ۲۳
متفرقې مسئلې ........ ۲۵
د قبر د حالت بیان او مسائل ........ ۲۷
د حضرت سلیمان علیه السلام کیسه ........ ۳۴
هر مسلمان باید امیدونه مختصر وساتي ........ ۳۶
علماء کرامو فرمایلي چې پر زړونو کې نور(رڼا) څلور شیان پیدا کوي: ........ ۳۶
او هغه څوک چې بیا خپل امیدونه اوږده اوږده ساتي نو الله پاک هغه په
څلور قسمه عذابونو اخته کوي: ........ ۳۷
علماء کرامو بیا لیکلي چې د زړه سختي څلور شیان پیدا کوي: ........ ۳۷

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

## د دې کتاب متعلق یو څو خبرې

دا کتاب په نامه د عقبی ته سفر ولیکل شو، دا خاص د هغو مسلمانانو لپاره، چې ټول خپل ژوند یې دنیوي کاروبار باندې مشغول ساتلی وی، او تل پدې فکر کې وي چې همدا دنیا ده او د دنیا همدا عیش و نوش مزی او چرچې به وي او بلي خوا ته مخه نلرو، نو چا د بې علمی په وجه ځان غافله کړی، څوک د دنیا په عیش و نوش باندې مست دي، څوک د مال او دولت په خزانو دوکه شوي دي بعضې داسې فکر کوي چې تل به دا دنیا او دولت وي او هم به زه یم، بله دنیا څه او کار یې څه، نه ګرانو ورونو ! بله دنیا راتلونکي او راروانه ده، ډیر اوږد سفر او غټ غټ منزلونه مخکې راته پراته دي لکه د عقبی په سفر کې د ځنکدن، قبر، پل صراط، تله د میزان او د حشر د ورځې سوال او جواب منزلونه راته مخکې په کمین کې لاره راته محاصره کړي ده، بلکل د نجات لاره نلرو او نه بله د نجات لاره راته شته.

که غواړو چې د عقبی د سفر لپاره، ځان سره د خپل نجات لپاره څه ولرو نو باید د دې کتاب لیکل شوې خبرې په غور ولولو، او پوره عمل پرې وکړو، ترڅو مو الله تعالی د عقبی سفر راته اسانه او لنډ کړي.

## مرګ د مومن لپاره یوه خدایي ډالۍ ده

حدیث شریف: دا چې خپله د فخر کاینات او رحمت للعالمین حضرت محمد صلی الله علیه واله وسلم مبارک ارشاد دی، هغه فرمایي چې مرګ د مومن لپاره یوه خدایي ډالۍ ده، مطلب دا چې مرګ د مومن لپاره، د دنیوي تکلیفونو د خلاصون بهترینه وجه ده، او جنت ته د داخلیدو، او خپل رب سره د ملاقات ذریعه ده، او بنده د یوه عالم نه بل عالم ته انتقالوي چې د دې مثال علماء کرامو د مور خیټې ماشوم سره یې داسې

ketabton.com - The Digital Library


شو دلی دی ماشوم د مور خیټه کې داسي فکر کوي چې بې له مور خیټې نه بله دنیا هیڅ نشته وروسته چې بیا دنیا ته راشي، بیا هلته ورته معلومیږي چې دا خو دنیا ده، نو همدا رنګه د دې دنیا نه بله دنیا هم شته، کله چې مړ شي تعلق یې عالم برزخ او عالم ارواح سره شی نو دا دنیا هسي ورته ښکاري لکه چې ماشوم ته د مور خیټه ښکاره کیده، بیا به داسي فکر کوي چې د دنیا عمر خو یو خوب وو یا خیال[۱].

اوس خو دا ښکاره خبره ده چې هر زیروح د مرګ څکونکی دی او د مرګ نه خلاصون نلري هغه زیروح په انسانانو کې هغه مومن وی یا کفر وی، نر وي او که ښځه، لوی وي او که کوچنی، امیر وي یا خادم، پادشاه وي او که ګدا، صالح وي یا فاسق او فاجر، نو خامخا د مرګ پنجي ته ورځي، او د مرګ پیاله به نوش کوي، حتی چې انبیاؤ علیه السلام هم ترې مستثنی نشول چې خپله سردارد کونینو هم پکې شامل او د دې فاني دنیا نه یې رحلت کړی.

دا چې د مرګ سلسله ابتدا نه یعنې د مخلوق د پیدایش نه شروع شوي دا به تر قیامته ادامه کوي لکه چې خپله الله تعالی خپل کلام پاک کې فرمایلي چې (كُلُّ نَفْسٍ ذائِقَةُ الْمَوْتِ) یعنی هر زیروح به په خپل وخت سره مري هیڅ رد او بدل پکې نه راځي، الله تعالی بل ځای کلام پاک کې فرمایلي: (خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ لِيبْلُوَكُمْ أَيكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا) یعنی نیک بخته هغه څوک دی چې دی په خپل ځان د الله پاک حکمونه او د نبي کریم صلی الله علیه واله وسلم مبارکې طریقې عملي کړي، او خپل دنیوي ژوند، د شریعت په رڼا کې په عبادت او بندګی سره تیر کړي.

کله چې انسان پیدا کیږي، دې ژاړي او خپلوان یې خوشحالي او خنداګاني کوي نو کله چې دې خپله مري خپله خوشحالي کوي، خپلوان

[۱] رواه درمختار و شامی

ketabton.com - The Digital Library



یې ورپسې ژړا او انګولاوي کوي.

## د ځنکدن د حالت بیان

کله چې مسلمان د دنیا نه رحلت کوي نو سنت طریقه دا ده چې نور مسلمانان به هغه مسلمان چې د ځنکدن وخت یې راشي نو مخ به یې قبلې خواته واړوي یعنې ښی اړخ به یې قبلې خواته کړي، ځنې بیا وایي چې ستوني ستغ به یې څملوي چې پښې یې قبلې خواه راشي، سر لاندې به یې یو شی کیږدي، چې مخ یې قبلې ته برابر شي او پورته آسمان ته ونګوري، او که په اړولو او رااړولو کې ورته تکلیف وو نو پر خپل حال به یې پریږدی، نو کله یې چې ساه اخیستل شروع کړل (او ژر ژر یې نفس اخیستل شروع کړ) او پښې یې سستې شوې، رګونه یې ودریدل، پوزه یې کږه شوه او د غوږونو دواړو خواوې نرمې د ژیړې د شنه کیدو هغه خوا یې چې کیناستی نو دا یې د ځنکدن حالت دی.

په ناستو خلقو کې به یو شخص په کلاره په ټیټ اواز ورته د کلمې شریفې (لا اله الله محمد رسول الله) تلقین شروع کړي، پدې خاطر چې ورته فکر یې شي او دی یې هم ووایي، لیکن نه به ورته وایي چې ویې لوله، دا ځکه چې دا ډیر سخت حالت دی داسې نه چې بل څه یې د خولې نه ونه وځي.

د کلیمې شریفې د تلقین نه مقصد دا دی چې ځنکدن کې د دې شخص ژبه په کلمه شریفه جاري شي، که یې یو وارې په تلقین کې کلمه وویله ورته کفایت کوي. نور به تلقین کوونکی چپ کیږي، دا ځکه چې مراد یې حاصل شو، او که یې د تلقین وروسته بیا خبرې وکړې بیا به ورته کلمه شریفه شروع کړي یا به سورت یاسین پرې شروع کړي، دا ځکه چې د سورت یاسین په لوستلو سره یې ځنکدن اسانیږي، که چیرې دې وخت کې له دې نه کومه د کفر خبره ووتله بد به پرې نه وایو، مونږ به دا وایو

ketabton.com - The Digital Library



چې د ځنکدن د سختی له وجې نه يې عقل پر ځای نه وو نو ځکه دا خبره ورنه وو تله، دا معاف دی الله تعالی دې پرې رحم وکړي[١].

مسئله: کله چې مړي نه ساه وتله د مړي اندامونه به برابر کړل شي، يعنې سترګې به يې پټې کړل شي، زنه به يې وتړل شي، د دواړو پښو غټې ګوتې به يې وتړل شي، او که يې سترګې نه پټيدې نو په کراره کراره به يې ورته پټې کړی، پداسې حالت کې به (بِسْمِ اللهِ وَعَلٰى مِلَّةِ رَسُولِ الله) وايي نور نو په مړي باندې تر غسل ورکولو قرآنکريم لوستل مکروه دي. کله يې چې مړی وغزاوه بيا به لړ غوندې عود يا لبان يا څه بله خوشبويي ورته ولګوی. داسې وخت کې که څوک جنب وي يا دا چې ښځه په حالت د حيض يا نفاس کې وه هغه به ورنه وځي، نور به کوشش وکړل شي چې د مړي تکفين په چالاکۍ وشي بهتره خبره ده[٢].

## د ځنکدن حالت

مجاهد رحمه الله فرمايي چې کله سړی د مرګ حالت ته نږدې شي نو پدې وخت کې ورته د خپل مجلس او ميني د ملګرو صورتونه راشي، که چيرې يې ملګري صالح او نيک خلق وي هغې يې مخې ته راشي او که چيرې يې د مجلس ملګري فاجر او فاسق خلک وي هغه به يې مخې ته راشي، نور نو زمونږ د مسلمانانو قضاوت پوري اړه لري چې کوم ملګری بهتر دی.

حضرت سفيان رحمه الله بيا فرمايي چې کله ملک الموت د انسان زړه د مرګ حالت کې مسح کړي نو دې وخت کې دی د خلکو د پيژندګلوی نه خلاص شي، ژبه يې بنده شي، دنيوی ټول شيان هير کړي بيا فرمايي چې که چيرې دی د مرګ په نيشه سپور نه وي ده به د ځنکدن د تکليف د وجې

---

[١] رواه دورمختار و بحر رايق
[٢] رواه فتاوه هنديه و شامی

ketabton.com - The Digital Library



نه په ناستو خلکو توره چله ولی وه[۱].

به بعضي رواياتو کې راځي چې کوم وخت ساه حلق ته راشي نو په دغه وخت کې شيطان ابليس د ده د گمراه کولو ډير کوشش کوي، چې انسان گمراه کړي او خطا يې باسي.

حضرت جنيد رحمه الله کله چې وفات کيده چا ورته کلمه شريفه (لا اله الا الله) تلقين کوله، نو ده مبارک ورته وفرمايل چې دا ما مخکې ياده کړې ده، او تر اوسه پورې مې دا مبارک لفظ هير کړی هم ندی، چې اوس يې تانه ياد کړم، فعلاً الحمد لله دا مې وظيفه او ژبه مې پرې لمده ده.

بل ځای يو جليل القدر صحابي فرمايلي چې ماته يوه عابد وويل چې په بصره کې يو سړی وفات کيده خلکو به ورته کلمه شريفه د (لا اله الا الله) تلقين کوله، او د ده په ژبه به لس لس روپۍ راتله، او دا هم په لس لس روپۍ پر ژبه به يې ويل[۲].

حضرت موسی عليه السلام کله چې وفات شو الله پاک ورنه وپوښتل چې ای موسی! د مرگ حالت دی څنگه وو بيان يې وکړه، موسی عليه السلام عرض وکړو چې يا الله! ته د زړونو مالک يې او په هر څه واقف يې ليکن ما د ځنکدن حالت پر خپل ځان داسې وليده لکه څنگه چې ژوندی مرغه په اور باندې اړوی او رااړوي، چې نه هغه مري او نه يې ساه وزي، او نه الوتلی شي او دی د کبابيدو حالت کې وي[۳].

بل روايت کې بيا د ځنکدن حالت داسې بيان شوی دی لکه څنگه چې د ژوندی وزه يا چيلۍ څخه پوستکی اوباسي[۴].

---

[۱] رواه فضايل صدقات

[۲] رواه فضايل صدقات

[۳] رواه فضايل صدقات

[۴] رواه فضايل الاعمال

ketabton.com - The Digital Library



حدیث شریف: یوه حدیث کې نبي کریم صلی الله علیه واله وسلم فرمایلي چې د ځنکدن د حالت مشکل داسې دی لکه څنګه چې یو انسان پر بدن باندې (۳۰۰) درې سوه توري خوړلي وي، او د توري هر پرهر پر بدن ښکاري، نو د درې سوو تورو ګزار پر بدن او تکلیف د ځنکدن یو شان وي[۱].

حدیث شریف: نبي کریم صلی الله علیه واله وسلم فرمایلي چې تاسو مرګ ډیر ډیر یادوی ځکه چې دا عمل ستاسو ګناهونه لري کوي، او د دنیا سره بې رغبتي درته پیدا کوي[۲].

حدیث شریف: د نبي کریم صلی الله علیه واله وسلم مبارک ارشاد دی فرمایي چې: ای خلکو! د مرګ نه رومبی تاسو د ګناهونو نه توبه وباسی، او په نیکو اعمالو تلوار وکړی، هسې نه چې په بل کار مصروف شئ او توبه درنه پاتي شي، الله پاک سره خپل زړه وتړئ، او خپله ژبه په ذکر سره عادت کړئ، او خپله صدقه مستحقینو ته خفیه ورکړئ[۳].

یو بزرګ فرمایي:

۱. چې دا د تعجب ځای دی چې څوک پدې یقین ولري چې مرګ شته او هر وخت راتلونکی دی، نو دی بیا ولې په لړ غوندی خوشحالۍ دی خوشحالي کوي؟

۲. بل د تعجب ځای دا دی چې څوک پدې یقین ولري چې دوزخ حق دی حشر یې معلوم ندی نو بیا ولې په خبره خاندي؟.

۳. دا هم د تعجب ځای دی چې دوی د دنیا انقلاب ښه ویني، نو بیا ولې په دنیاوي معاملو مطمئین کیږي؟.

---

[۱] رواه فضایل صدقات

[۲] رواه فضایل اعمال

[۳] رواه فضایل صدقات

ketabton.com - The Digital Library



۴. دا هم د تعجب ځای دی چې پدې يقين ولري چې تقدير برحق دی او څه چې ورته مقرر وي هغه به خامخا ورته رسيږي، نو بيا ولې مصيبتونه اوچتوي؟![1].

مسلمه بن عبد المالک رحمه الله د وفات وخت کې ډير ژړل، چا پوښتنه ورنه وکړه چې ولې ژاړې؟ ده ورته وفرمايل چې زه د مرګ د ويرې څخه نه ژاړم، زه پدې ژاړم چې ما (۳۰) کاله په جهاد کې تير کړل، څو مره مې چې جهاد ته ادامه ورکړه ليکن زه شهيد نشوم، دا دی اوس د زنانه وو غوندې په کټ کې پروت او په سره تبه مرم[2].

يوه حديث شريف کې راغلي چې يوه ورځ حضرت بي بي عايشې رضي الله تعالی عنها نبي کريم صلی الله عليه واله وسلم څخه پوښتنه وکړه چې اې د الله پاک رسوله! چې بې د شهادت نه بل څوک د شهادت درجه وړای شي او د شهيدانو ډله کې شامليدای شي؟ نو نبي کريم صلی الله عليه واله وسلم ورته وفرمايل: چې څوک يوه شپه او يوه ورځ کې (۱۰۰) سل واري مرګ ياد کړي نو هغه شخص د شهيدانو ډله کې شامليدای شي[3].

## د شهيد احکام

شهيد پر درې قسمه دی:

۱. دنيوي شهيد. ۲. اخروي شهيد. ۳. صرف د آخرت شهيد.

دنيوي او اخروي شهيد ته غسل نه ورکول کيږي، باقاعده کفن هم نه ورکول کيږي ولې چې اخروي ته ثواب ډير دی.

دوهم قسم شهيد حکم بيا دا دی چې هغه ته د نورو مړو غوندی غسل

---

[1] رواه فضايل صدقات

[2] رواه فضايل اعمال

[3] رواه فضايل صدقات

ketabton.com - The Digital Library



او کفن ورکول کیږي او په آخرت هم ورته ثواب شته.

اول قسم شهید ته کامل شهید ویل کیږي چې د هغه لپاره (۷) اوه شرطونه دي:

اول مسلمان دی کافر شهید کیدای نشي.

دوهم او دریم شرط یې دا دی چې عاقل او بالغ وي نو که په وړوکي توب یا دا چې لیونتوب کې ووژلی شي په اول قسم شهادت کې شامل دی.

څلورم شرط یې دا دی چې هغه پاکی کې شهید شي، په جنابت کې نه وي، او ښځه په حیض او نفاس کې نه وي.

پنځم شرط یې دا دی چې بې ګناه وژلی شوی وي یا یې سوزولی وي یا غرق شوی وي نو دا شهید په اول قسم کې شامل ندی، او که څوک په شرعي جرم ووژل شو هغه هم شهید ندی غسل وغیره هر څه ورته ورکول کیږي.

شپږم شرط یې دا دی چې یو مسلمان را پورته شو بل مسلمان یې غیر جارحه آله باندې وواژه یا یې په جارحه آله په خطایي سره وواژه، یا دا چې څوک مړ وموندی شو، نو بیا په داسي حالت کې قاتل باندې مالي عوض واجب دی او قصاص نه خلاص دی.

اووم شرط یې دا دی چې کوم شخص په جارحه یا غیر جارحه آله مړ شو، نو دا هم په اول قسم شهادت کې شاملیدای نشي، او که چیرې څوک د خپل نفس بال او بچ یا د بل مسلمان د دفاع حالت کې ووژل شو نو دا کامل شهید دی[1].

مسئله: که څوک د الله پاک لاره کې شهید شو، او مذکوره شرایط او

---

[1] رواه درمختار و شامی

ketabton.com - The Digital Library



شواهد پکې نه وي نو دا هم شهید دی خو صرف دا شهید د آخرت شهید دی یعنې ثواب موعود ورته نشته، لیکن د دنیا احکام به نورو مړو غوندي ورباندي جاري کیږي، یعني غسل او کفن به ورکول کیږي[1].

## د مړي د لمبولو طریقه

مسئله: د مړي د لمبولو مستحبه طریقه داسي ده چې اول به تخته راوړی شي، بڼه به یې پاکه و مینځي لږ غوندي خوشبویي به پرې ولګول شي، مړی به پرې څملوي جامې به یې په کلاره ورنه وباسي، دا ځکه چې هغه د ځنکدن د سختیو نه تکه او پارچه پارچه وي، حال یې بیان شوی دی لیکن مړی به په تخته راستن ته برابر چې مخ یې قبلې خواته وي، او که نه بهتري یې بیا پر دې کې ده چې پښې یې د قبلې خواته کړي، شاه په تخته به یې څملوي د تختې د سر خوا به لږ غوندي جګه او د پښو خوا به یې لږ غوندې ټیټه وي، مړی به مایل غوندي په تخته پروت وي[2]

مسئله: په غسل ورکولو کې به کله یې چې جامې ورنه لرې کړې، په فرضو به یې یوه پاکه پرده واچوي غسل ورکونکی به یوه خلیطه په لاس کوي، اول به استنجاء وکړي، استنجا به اول په لوټو بیا به یې په اوبو استنجا ورکړي، او به اچونکی به اوبه په پرده اچوي، غسل ورکونکی به استنجا ورکوي، کله چې استنجا نه خلاص شو، دا خلیطه به لرې کوي.بیا به دواړه لاسونه درې واري تر مړوندو پورې، بیا به یې خوله درې واري و مینځي حتی شونډو لاندې به اوبه ورسوي بیا به یې پوزه درې واري حتی چې د پوزې نرمی یې د ننه لمدې شي، بیا به یې مخ درې واري بیا به یې ښی لاس تر څنګلو پورې او بیا به یې چپ لاس تر څنګلو پورې و مینځي بیا به یې د سر مسح وکړي آخر کې به یې دواړه پښې تر بجلکو

[1] رواه درمختار، شامي و بحر رايق
[2] رواه عالمګیر او شامي

ketabton.com - The Digital Library



پورې درې درې وارې ومینځي لکه څنګه چې ژوندی شخص د لمانځه لپاره اودس کوي، په همدې شکل به اودس ورکړي.

که چیرې مړی جنب وو یا دا چې ښځه د حیض او نفاس په حالت کې وه دلته عالمانو فرمایلي چې د څهار اندام اودس وروسته به د مړي سر او ږیره په صابون یا بل شی ومینځي چې صفا شي، شرط دا دی چې سر یې ویښتان ولري.

بیا به مړی په ګینې اړخ په تخته واړوي په شیر ګرمه اوبو البته عود یا د بیري پاڼې به پکې جوش شوي وي، درې وارې به یې د سر نه تر پښو پورې اوبه پرې واچوي، چې ټول بدن ته یې اوبه ورسیږي، بیا به مړی په ښي اړخ راواړوي د سر نه تر پښو به یې درې وارې اوبه واچوي چې ټول بدن ته یې اوبه ورسیږي، بیا به غسل ورکوونکی مړی لږ غوندې کینولو ته برابر کړي چې کوم فضله مواد یې معده کې وي هغه خارج شي، نو کله چې مړي ته غسل ورکول شو نو په یوه پاکه ټوټه به یې وچ کړي دا پورته طریقه چې یاد شوه دا یو سنت طریقه ده.

نوټ: کله چې مړي ته غسل ورکړو عین د غسل په طریقه به آخر کې پر مړي چې کافور پکې جوش شوي هغه اوبه به هم په مړي دوهم وار اچوي، بیا به یې په پاکه ټوټه وچوي.

مسئله: د مړي ویښتان تراش کول، د نوکانو اخیستل او د ویښتانو ګومنځول مکروه دي[1].

مسئله: غسل ورکوونکی به بلکل د مړي عیبونه نه افشا کوي.

مسئله: مړی ته به خپلوان یا دا چې صالحان کسان غسل ورکوي[2].

---

[1] رواه ردمختار
[2] رواه دورمختار

ketabton.com - The Digital Library



مسئله: ښځې ته خاوند غسل ورکولای نشي، لیکن ښځه خاوند ته غسل ورکولای شي، دا ځکه چې د خاوند په مرګ نکاح نه ختمیږي، او د ښځې په مرګ نکاح ختمیږي[۱].

مسئله: که ښځه مړه شوه بله ښځه نه وه او نه یې بل محرم وو بیا به غیر سړی خلطه پلاس کوي تیمم به ورکړي، لیکن ګوري به نه ورته، سترګې به پټوي[۲].

مسئله: که د مړي صرف سر پیدا شو، غسل ورته نشته او که نیم نه زیات بدن یې پیدا شو او سر یې ورسره وو غسل به ورکوي دفن کوي به یې، او که چیرې نیم بدن یې مکمل وو د نیم نه کم نه وو او سر یې ورسره وو غسل به ورکړي. دفن به یې کړي[۳].

مسئله: یو ځای کې مړي زیات وو د مسلمان او کافر فرق پکې نکیده نو ټولو ته به غسل ورکړي، کفن به هم ورکړي یوه هدیره کې به یې ښخ کړي[۴].

مسئله: که چیرې مړی نابالغ وو، هلک وي او که نجلۍ، نارینه او ښځینه دواړه کولای شي چې غسل ورکړي[۵].

مسئله: جنب او حایضې او نفاسه ښځه به مړي ته غسل نه ورکوي، ورته مکروه ده.

مسئله: کوم بچی چې د موره مړ پیدا شو او هغه کې د ژوند هیڅ علامات ونه لیدل شو غسل به ورکوي، کفن به نه ورکوي په یوه ټوټه کې

---

[۱] رواه درمختار و ردمختار
[۲] رواه قاضی خان
[۳] رواه بحر رایق
[۴] رواه شامي
[۵] رواه درمختار

ketabton.com - The Digital Library



به يې تاو کړي، ښځ به يې کړي، د جنازې لمونځ هم پرې نشته ليکن نوم به پرې ږدي[۱].

## مړي ته د کفن ورکولو طريقه

مړي ته د کفن ورکولو مخکې، پر ژوندو باندې مړي ته غسل ورکول فرض کفايي ده[۲].

مسئله: د نارينه لپاره مسنونه کفن درې ټوټې دی، اول ايزار. دويم قميص او دريم لفافه ده.

ايزار د سر نه تر پښو پورې وي، قميص بيا د مړي تر قدم پورې چې دا تکه به په بر شکول کيږي، دو مره به يې شکوي چې د مړي سر پکې ننوزي، مخکنی لمن يې د پښو تر ځنګنونو پورې پرې غوړول کيږي، لفافه بيا د ايزار نه لږ غوندی اوږد وي د دې د پاره چې مړی ټول پکې تاو شي، بيا د سر او پښو د خوانه وتړل شي[۳].

مسئله: د ښځې لپاره کفن بيا پنځه ټوټې دی چې درې يې د مردانه غوندي، څلورم يې سينه بند دی او پنځم يې خمار (ټکری) دی چې درې شرعي ګزه وي[۴].

## د کفن ورکولو طريقه

اول به په کټ يا غولی باندې به لفافه وغوړوي.

دويم په لفافه به برسيره ايزار وغوړول شي.

دريم به په ايزار برسيره به د قميص نيمه حصه وغوړول شي، او نيمه

---

۱

۲ رواه شرح تنوير و شامي

۳ رواه درمختار

۴ شامی، درمختار و بحر رايق

ketabton.com - The Digital Library



حصه د قمیص به د سر خواته راټوله شي، بیا به مړی پرې د غسل او وچولو نه وروسته د تختې نه په قراره جګ کړي، او پکې به یې ثملوي، د قمیص ټوله شوي خوا به پورته کړي د مړي سر به پکې ننباسي او د مخې خوا لمن به یې تر زنګنو پورې وغوړوي، البته زنګنونه به هم پکې پټوي، بیا به د غسل پرده ورنه ټوله کړای شي. بیا به د ایزار چپه خوا پرې راواړوي، بیا به یې ښۍ خوا پرې راواړویو بیا به د لفافې چپه خوا پرې راواړوي، بیا به یې ښۍ خوا پرې راواړوي بیا به د لفافې سر خواته او پښنو خواته وتړي[1].

مسئله: د کفن لپاره سپین تاري تکه بهتره ده، هغه که نوي وي یا زړه لیکن پاکه به وي د ویختو او خرمنې کفن مکروه دی، د ښځې لپاره وریښمین کفن جایز دی[2].

## ښځې ته د کفن ورکولو بیان

اول به لفافه ورته وغوړول شي، دویم د هغه د پاسه بیا ایزار وغوړول شي، دریم د ایزار د پاسه به ورته قمیص وغوړول شي، د قمیص نیمه حصه به پرې وغوړي، او نیمه حصه به یې د سر خواته ټوله کړي، مړی به تختې نه په کراره پورته کړي او پکې ودې غزوي بیا به د مړي کوڅۍ یا ویښتان دوه حصې کړي، د قمیص د پاسه به یې د سینې ښۍ او چپې خواته اوږدې واچوي.

بیا به یې ټکری د هغې پرمخ او ویښتانو باندې وغوړوي، لیکن نه به یې تړي او نه به یې کلوله کوي، بیا به په ترتیب سره اول د ایزار چپه خوا وروسته به یې ښۍ خوا پرې راټوله کړي، دویم سینه بند به ټکری نه پس او د ایزار نه مخکې تړل هم جواز لري، او که یې دا ټول د کفن د پاسه

[1] رواه شامی و ردمختار
[2] رواه درمختار او شامي.

ketabton.com - The Digital Library



وتړي هم ورته جواز لري.

بیا به د نارینه په شکل ایزار او د قمیص اول چپه خوا پرې واړول شي. بیا به یې ښۍ خواګانې پې راواړوي او د ایزار سر خوا او د پښو خوا به یې وتړي[۱].

مسئله: نابالغ مړي ته کفن د بالغ په شکل ورکول کیږي مراحق ته هم پدي شکل او که چیرته ډیر واړه وه هلک ته دوه چې یو ایزار بل څادر دی، او نجلۍ لپاره هم صحیح دی[۲].

مسئله: که د انسان یو اندام یا نیم بدن بې د سر نه پیدا شو، کفن نه ورکول کیږي، نو په یوه ټوټه کې به یې تاو کړي ښخ به یې کړي، او که بدن یې نیم نه زیات وو یا پوره نیم وو او سر ورسره وو بیا نو پوره کفن ورکول کیږي[۳].

مسئله: که په قبر کې مړی پیدا شو، او هغه خراب شوی نه وو، او که تازه وو نو کفن به ورکړي، ښخ به یې کړي[۴].

مسئله: نارینه ته دوه کفنه د ضرورت وخت کې هم جواز لري، ایزار او لفافه او د ښځې لپاره ضرورت وخت کې که درې ټوټې وي کفایت کوي، لیکن کم نه وي نو به هغه ایزار، لفافه او ټکری وي د ښځې لپاره.

## د جنازې د وړلو بیان

مسئله: که مړی بچی وه هغه که شیر خوار وي یا یې نوی بیل کړی وي د هغه وړل لاسونو کې پکار دی او که لږ غوندې لوی هم وي، په وړو کې به یې یو بل ته ورکوي یا به یې یو بل ورنه اخلي، او که لوی وو په کټ کې

[۱] رواه شامي درمختار و بحر
[۲] عالمګیر
[۳] رواه شامي
[۴] رواه شامي

ketabton.com - The Digital Library



به يې ورې څلور کسانو باندې[1].

مسئله: د جنازې د وړلو مستحبه طريقه دا ده، چې اول به د کټ چپه پښه په ښی اوږه جګوي کم د کمه به يې لس قدمه يوسي، بيا به يې د کټ وروستۍ چپه پښه په ښی اوږه نيسي کم د کمه به يې لس قدمه وړي، دريم بيا به مخې ته ورځي د کټ ښی پښه په چپه اوږه اخلي اقلا لس قدمه به ځي بيا به وروستۍ ښی پښه د کټ په چپه اوږه اخلي لس قدمه به ځي په ترتيب سره به يې وړي دا ځکه چې حديث مبارک کې راغلي چې څوک جنازه څلويښت قدمه يوسي هغه ته الله پاک ډير ثوابونه ورکوي[2].

مسئله: جنازه چالاک وړل په وقار سره سنت طريقه ده، ليکن دومره چالاکي باندې نه چې مړي ته يا وړونکي ته څه تکليف پيدا شي[3].

مسئله: که جنازه په لاره روانه وه او څوک ناست وو هغه به ورته نه دريږي او که ورسره د تلو اراده يې وه جګيږي به په وړو کې به ځان داخلوي، او کوم کسان چې جنازې سره روان وي هغوي ته بيا ناسته جواز نلري[4].

مسئله: مستحبه طريقه دا ده چې څوک جنازې سره ځي، هغه به يې شاته ځي همداسې د جنازې ښی خواه او چپې خواته تلل هم مکروه دي[5].

مسئله: په جنازه کې شاته تلل غوره دي، او که ښځې ورسره وي نو بيا مخکې تلل جواز لري، درصورت چې جنازې سره د ښځو تلل مکروه تحريمي دي[6].

---

[1] رواه درمختار و ردمختار
[2] رواه ؟؟؟ الفلاح و درمختار
[3] رواه بحر رايق
[4] رواه مراتي فلاح
[5] رواه درمختار و شامی
[6] رواه درمختار تو بحر رايق

ketabton.com - The Digital Library



مسئله: که څوک جنازې سره روان وي، هغه لپاره تلاوت او نورو دعاګانو لوسته په زوره مکروه دي[1].

مسئله: د جنازې مخکې تلل مکروه دي، هغه که سپور وي يا پياده وي، او که چيرې شاته سپور وي بيا ورته جواز شته[2].

**د جنازې د لمانځه مسايل او طريقه يې**

د جنازې لمونځ فرض كفايي دی، د جنازې لمونځ کوونکو باندې کوم شرايط چې د نورو لمونځونو دی د دې لمانځه لپاره هم دی، لکه قدرت، عقل، بلوغ او اسلام، ليکن يو شرط دلته چې زيات دی هغه دا دی که کوم شخص د جنازې خبر وي او که خبر نه وي نو بيا پرې لازم ندی.

مسئله: د جنازې د لمانځه د صحيح کيدو لپاره دوه شرايط دي، يو قسم هغه دی چې هغه تعلق لري د جنازې کوونکي سره، بل قسم هغه دی چې تعلق لري د ميت ( مړي ) سره.

نو کوم چې لمونځ کوونکی سره تعلق لري، چې نورو لمونځو کې ثابت دی، لکه طهارت حقيقي او حکمی د بدن، طهارت د لباس او بدن او مکان ستر عورت، قبلې ته دريدل او نيت البته وخت ورسره شرط ندی، او په مکروه اوقات کې مکروه او منع دی[3].

مسئله: که امام بې طهارت څخه جنازه وکړه، جنازه يې ونه شوه چې د ده ونه شوه نو د ټولو جنازه ونه شوه، او که د امام طهارت وو، د مقتديانو طهارت نه وو جنازه يې وکړه، جنازه کيږي دوباره جنازې ته حاجت نشته، دا ځکه چې جنازه پر يوه شخص هم کيږي[4].

---

[1] رواه بحر رايق
[2] رواه فتح القدير و بحر
[3] رواه شامي و رد مختار
[4] رواه شرح التنوير و ردمختار

ketabton.com - The Digital Library



مسئله: په جنازه کې که اوبه هم موجود وي او دې يې په استعمال قادر نه وي نو تيمم ورته جواز لري.

مسئله: که بوټونه يې پر پښو ؤ، جنازه يې کوله نو په کوم ځای چې ولاړ وي هغه ځای بايد پاک وي او که بوټونه يې ويستلي وو پرې ولاړ وو هم جنازه يې کيږي، دا ځکه هغه يې مکان شو[1].

مسئله: دلته کوم شرايط چې مړي پورې تعلق لري لکه:

۱. شرط يې اسلام دی، د کافر جنازه نشته. مسلمان چې هر قسم وي، فاسق وي او که بدعتي نو د جنازې لمونځی يې شته، سوا د څو کسانو لکه چا چې د اسلام پادشاه نه بغاوت کړی وي،

۲. ډاکو دی چې عين جنګ کې هلاک شي، جنازه يې نه کيږي په غسل کې د عالمانو اختلاف دی او که د جنګ نه بعد مړ شو يا قتل کړای شو، يا په خپل مرګ مړ شو، بيا يې جنازه شته کولای يې شي.

۳. چا چې قصدا خپل پلار وژلی وي، يا يې مور وژلي وي د هغه جنازه نه کيږي.

۴. چا چې قصدا خودکشي کړې وي اګر چې دا د بل قتل نه زيات ګناه لري، ليکن د جنازې لمونځ يې کيږي.

مسئله: که وړوکی نابالغ مړ شو، صرف پلار يې مسلمان وو مور يې کافره وه يا يې مور مسلمانه وه صرف پلار يې کافر وو، دلته وړوکی دواړو حالاتو کې مسلمان ګڼل کيږي، دا ځکه چې صغير د دين تابع وي، د جنازې لمونځ يې کيږي[2].

مسئله: ميت نه مراد هغه دی چې دی د موره ژوندی پيدا شوی وي بيا هغه مړ شوی وي نو که د موره مړ پيدا شوی وي، پر هغه د جنازې لمونځ

---

[1] بحر رايق
[2] رواه شامي

ketabton.com - The Digital Library



نشته[1].

مسئله: دوهم شرط یې دا دی لکه:

د مړي بدن باید پاک او صفا وي، حکمي او حقیقي نجاست پرې نوي، د کفن پاکوالی یې شرط دی او که چیرې د کفن کولو نه پس مړی نه څه نجاست ووت، او بدن یې پرې بیلمازه شو، یا یې کفن نو دا مضر ندی، لمونځ یې کیږي، او که چیرې مخکې ناپاک وي بیا لمونځ یې نه کیږي[2].

مسئله: که مړي ته غسل نه وو ورکړل شوی یا دا چې اوبه نوی او تیمم هم نه وو ورکړل شوی جنازه یې نه کیږي او که مړی ښخ شوی وو، خاورې پرې اړول شوی وي نو بیا یې په قبر جنازه وکړه شي، او که د مړي جنازه یې وکړه، ښخ یې کړو خاورې پرې واچولی بیا وروسته وریاد شو چې غسل وغیره خو د ده نه وو شوي نو صرف په قبر یې جنازه وکړه مخکې جنازه یې صحیح نده دا ځکه چې شرط د طهارت یې موجود نه وو او اوس یې طهارت ممکن ندی، لمونځ یې کیږي[3].

مسئله: که مړی په کټ کې پروت وو او کټ پاک وو، کټ په ناپاک ځای وو دلته جنازه یې کیږي[4].

مسئله: دریم شرط یې ستر عورت دي:

که مړی بالکل لوڅ او لغړ وو لمونځ د جنازې یې نه صحیح کیږي[5].

څلورم شرط یې دا دی چې مړی باید حاضر وي ټول یا اکثره لکه نیم بدن سره د سره نو په غایب باندې جنازه صحیح نده.

---

[1] رواه شامي
[2] رواه ردمختار
[3] رواه بحر رایق
[4] رواه قاضي خان
[5] رواه در مختار

ketabton.com - The Digital Library



پنځم شرط يې دا دی چې مړی باید مخې ته ایښی وي ، شا ته که مړی ایښي وي جنازه يې صحیح نده.

شپږم شرط يې دا دي چې مړی باید په کټ کې یا بل شي کې وي هغه پروت وي او که په حیواناتو یا دا چې خلقو اوچت نیولی وي د جنازې لمونځ يې نه کیږي.

## د جنازې د لمانځه ترتیب او طریقه يې

د جنازې د لمانځه طریقه دا ده چې اول به نیت داسې وکړي (نَوَیتُ اَن اُصَلّي للّه تَعَالی اَرْبَعَ تَکْبِیرَاتِ صَلَاةِ الْجَنَازَة اَثنَاءُ للّه تَعَالی وَالدُّعَاءُ لِهَذَا الْمَیِّت ) او که په پښتو يې وایي نو داسې به وایي: نیت مې وکړو د زړه د اخلاصه آدا کوم لمونځ د جنازې چې ثناء د پاک رب او دعا ده، لپاره د دې مړي، نیت چې په هر قسم وي صحت لري، لیکن درست او صحیح وي.

د نیت وروسته به په الله اکبر ویلو سره خپل دواړه لاسونه غوږونه کوز کړي، بیا به يې د نامه پر سر وتړي، بیا به دا ثناء (یعني سُبحانَكَ اللّهُمّ) داسې ووایي (سُبحانَكَ اللّهُمّ وَبِحَمدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالی جَدُّكَ وَجَلّ ثَنَاءُكَ وَلَا اِلهَ غَیرُكَ ) بیا به الله اکبر بې له لاس اوچتولو نه وايیي، بیا به دا درود شریف ابراهیمي ووایي (اللّهُمّ صَلّ عَلَی مُحَمّد ، وَعَلَی آلِ مُحَمّد ، كَمَا صَلّیْتَ عَلَی إِبْرَاهِیمَ، وَعَلَی آلِ إِبْرَاهِیمَ، إِنّكَ حَمِیدٌ مَجِیدٌ ) بیا به الله اکبر بې د لاس اوچتولو نه ووایي، درصورت چې مړی عاقل او بالغ وي (اَللّهُمّ اغْفرْ لحَیّنَا وَمَیّتنَا وَشَاهدنَا وَغَائبنَا وَصغیرنَا وَكَبیرنَا وَذَكَرنَا وَاُنثنَا اَللّهُمّ مَن اَحییَتَه منّا فَاَحْیه عَلَی الاسْلَام وَمَنْ تَوَفّیَتَه منّا فَتَوَفّه عَلَی الایمَان ) او که چیرې مړی اصلی لیونی یا نابالغ هلک وو د هغه لپاره دا دعا ویل کیږي (اَللّهُمّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرْطًا وّاجْعَلْهُ لَنَا اَجْرًا وّ ذُخْرًا وّاجْعَلْهُ لَنَا شَافعًا وّ مُشَفّعًا ) ووايي کله يې چې دا اخري دعا ولوستله بیا به الله اکبر بې د لاس اوچتولو نه ووایي. بیا به اول ښي طرف ته بیا چپ طرف ته سلام

ketabton.com - The Digital Library



وګرځوي، نو د جنازې لمونځ يې ادا شو پدې لمانځه کې د قرآنکريم لوستل او رکوع وغيره بلکل نشته[۱].

مسئله: او که چيرې مړی ليونی يا نابالغه نجلۍ وه نو دا دعا به وايي: (اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا لَنَا فَرَطًا وَّاجْعَلْهَا لَنَا اَجْرًا وَّ ذُخْرًا وَّجْعَلْهَا لَنَا شَافِعَةً وَّ مُشَفَّعَةً) او که دا هم نشي ويلای، صرف څلور تکبيرونه هم کفايت کَوي دا ځکه چې صرف تکبيرونه هم د مړي لپاره رحمت دی او جنازه کې درود ويل څه فرض ندي بلکه سنت دی[۲].

## د جنازې د لمانځه فرضونه

مسئله: د جنازې د لمانځه فرضونه دوه دي:

1. څلور تکبيرونه د جنازې.
2. قيام دی يعنې د جنازې لمونځ به په ولاړې کوي.

## او دجنازې سنتونه درې دي:

1. د الله پاک ثناء او حمد ويل دي.
2. د درود شريف ويل دي.
3. د مړي لپاره دعا ويل دي او جماعت پکې شرط ندی دا ځکه چې جنازه په يوه شخص هم کيږي، جماعت پدې ضروری دی، چې د جمعې دعا اثر ډير دی[۳].

مسئله: امام تکبير په زوره وايي او مقتديان يې په خفيه سره وايي، سلام هم په زوره وايي باقي ثناء او دعاګانې په خفيه سره ويل کيږي[۴].

---

[۱] رواه درمختار، شامي و بحر
[۲] رواه عالمګير و بحر رايق
[۳] رواه شرح تنوير، شامي و بحر رايق
[۴] رواه هنديه

ketabton.com - The Digital Library



مسئله: امام ته د مړي د سيني برابر دريدل مستحب طريقه ده، هغه که مړی نر وي يا ښځه، بالغ وي او که صغير، ليکن که مړي ډير وو بهتره دا ده چې جدا جدا يې جنازه وشي اول به د اولنی جنازه لمونځ کوي، همداسې په ترتيب سره کومه چې مخکې راوړل شوي، جنازه به يې کوي او کله چې ټولې جنازې يو ځای راوړل شوي، اول به د هغه جنازه مخې ته راوړل شي، چې هغه عالم او صاحب رسوخ په عمر کې زيات وي د ټولو جنازو يو ځای لمونځ کول هم جواز لري، ليکن بهتره داده چې ټولې جنازې په يو صف کيښوول شي، په ترتيب سره د ټولو سرونه به يوې خواته او پښې به يې د ټولو بل طرف ته راشي، دلته بهتري پدې کې ده چې د امام مخې د هغوي د سينې برابر دريږي او که چيرې د يوې جنازې سر د بلې جنازې پښو سره وي هم فرق نلري، نو کوم يو چې مخې ته وي امام به د هغه سيني ته دريږي[1].

مسئله: په جنازه کې مستحبه طريقه دا ده چې بايد درې صفه جوړ شي تر دې حده چې ټول مقتديان که اوه نفره هم وي نو يو به امام شي اول صف به درې تنه شي، دوهم صف کې دوه آخر کې يو تن ودريږي.

مسئله: په جنازه کې که څوک اول تکبير ته راونه رسيدو، يا دا چې څو تکبيرونه ورنه فوت شوي وو کله چې امام سلام وګرځاوه، دې به خپل باقي تکبيرونه پوره کړي، ولې چې دی مسبوق ګڼل کيږي.

مسئله: که امام د جنازې لمانځه کې د څلورو نه زيات تکبيرونه وکړل، د امام صاحب په نزد مقتديان دلته د امام متابعت نکوي، دوی به تکبير نه وايي چپ به ودريږي، امام سره به بيا خپل سلام وګرځوي[2].

مسئله: که جنازې مختلفې وي او په يوه لمانځه کې يې کولې نو اول

---

[1] رواه درمختار و رد مختار
[2] رواه رد مختار

ketabton.com - The Digital Library



به اما مخې ته د سړيو بيا ورپسې به د هلکانو او ورپسې به د ښځو آخر کې به د جنکيو صف تړي[1].

مسئله: هغه مسجد چې د پنځه وخته لمونځ يا د جمعې د لمانځه لپاره جوړ شوی وي هلته بې له عذره جنازه کول مکروه تحريمي دی، نو دلته که جنازه په مسجد کې وي يا بيرون، ليکن لمونځ کوونکی به مسجد کې وي. عذر نه مقصد دا دی، شديد باران، واوره يا بل څه مشکل وي[2].

مسئله: د جنازې لمانځه کې اول حق د اسلام پادشاه دی که پادشاه موجود نه وو بيا حق د نايب دی چې امامت يې وکړي، که دا نه وو بيا حق د قاضي دی که قاضی نه وو بيا يې حق دنايب دی او که دا هم نه وو نو بيا د امامت حق د محلې د امام دی چې جنازه يې وکړي، او که امام د محل نه وو نو بيا د امامت حق د ده د نږدې رشته دار دی لکه د پلار، تره (کاکا)، ماما بيا ورور دی په دوی کې هر يو چې عالم، هوښيار او با تقوی وي او که نه وو نو بيا امام د جومات ورته بهتر دی[3].

مسئله: د جنازې د ادا کولو لپاره که يې ولې چاته اجازت وکړو صحيح خبره ده، دلته که متوفی نه دوه ځامن پاتې شول يو مشر او بل کشر وو نو اولنی حق د مشر دی[4].

مسئله: که بې له اجازې د ولي نه چا د جنازې لمونځ وکړو ولي اختيار لري چې بيا د سره جنازه وکړي، او که مړی دفن شوی وي، بيا يې په قبر هم جنازه کولی شي[5].

---

[1] رواه عالمگير

[2] رواه هنديه و ردمختار

[3] رواه شرح تنوير و ردمختار

[4] رواه ردمختار

[5] رواه در مختار و شامی

ketabton.com - The Digital Library



مسئله: که چا په ژوند وصیت وکاوه چې زما جنازه دې فلانی سړی وکړي، یا یې دا وصیت وکړو چې ما ته دې فلانی شخص غسل راکړي، نو پدې وصیت عمل ضرور ندی دلته ولي ته حق ورکول شوی چې د جنازې لپاره کوم کس تعین کوي او هم د مړي غسل لپاره هر شخص تعین کوي، دا د ولي اختیار دی[1].

## د مړي د ښخولو بیان او مسایل

مسئله: د مړي ښخول فرض کفایي ده، د رصورت چې امکان یې د ښخولو وي که امکان د ښخولو یې نه وه مثلا بحر کې سړی په جهاز کې مړ شه، تر وچې پورې مسافه ډیره وه نو مړی خرابیده، نو دی مړي ته به غسل ورکوي، کفن به ورکوي، جنازه به یې کوي بیا به دا مړی قبلې خواته په ښي اړخ دریاب ته وغورځوي.

که چیرې د خرابیدو خطره یې نوه بیا به یې د ځان سره خشکې ته وباسي هلته به یې ښخ کړي[2].

مسئله: قبر د مړي لپاره کم د کمه باید د نیم قد په اندازه ژور وشکوي، او په اوږدوالي کې قبر به په اندازه د قد دمړي وکیني، او پلنوالی بعضي روایاتو کې راځي چې نیم قد په اندازه وي[3].

مسئله: قبر پر دوه قسمه دی:

۱. اول قسم ته یې لحد وایي.

۲. دویم قسم ته یې شق یا لشتی وایي.

لحد هغه دی چې قبر کله وشکاوه، بیا به یې قبلې خواه غاړه کې

---

[1] رواه محیط و هندیه

[2] رواه شامی و در مختار

[3] رواه بحر رایق و شامي

ketabton.com - The Digital Library



وشکوي، بیا به دننه پکې مړی کیږدي، دې قسم قبر ته په اصطلاح کې شامي هم وايي.

او شق قبر دا دی چې ابتدا کې سیده قبر وشکوي، بیا یې منځ او مابین کې سیده د مړي د جسد په اندازه جدا وشکوي، بیا هلته مړی پکې کیږدي، په قبرو کې لحد د شق قبرو نه بهتر دی او که چیرې ځمکه شګلنه او نرمه وي خوف یې د لویدو وي نو بیا ورته د شق قبر کیندل غوره دي[1].

مسئله: د ضرورت په وخت کې تابوت کې د مړي ښخول، فرق نلري او بې ضرورت نه بیا د مړي ښخول تابوت سره مکروه ده، لیکن د ښځې لپاره با تابوت غوره دی[2].

مسئله: د مړې لاندې قبر کې درئ او پوزې غوړول جواز نلري بلکه د خاورو هوارول بیا مسنونه طریقه ده[3].

مسئله: د مړي په ښخولو کې د پردې غوړول هم مستحبه طریقه ده، د نارینه لپاره په باران وغیره کې هم فرق نلري، مړی به قبر ته داسې ورکوزوي چې اول به جنازه د قبر د قبلې خواته کیږدي او کوزونکی به د قبلې خواته دریږي، کوزونکي باید طاق وي، دا مسنونه طریقه ده، او که نه وي هم فرق نلري، دا ځکه چې نبي کریم صلی الله علیه واله وسلم یې قبر ته څلورو کسانو مدینه منوره کې کوز کړی وو چې یو یې حضرت عباس بل فضل بن عباس دریم حضرت علي او څلورم حضرت صهیب رضی الله تعالی عنهم وو.

د قبر کوزولو کې ( بِسْمِ اللهِ وَعَلی مِلَّةِ رَسُولِ الله ) به وايي. دا چې بعضې عوام دا خبره کوي چې د قبر ایښوولو وخت به بانګ یعنې د آذان

[1] رواه درمختار و رد مختار
[2] درمختار او شرح منیه
[3] رواه شرح منیه

ketabton.com - The Digital Library



کلمي وايي ليکن دا بدعت دی.

کله چې مړی قبر کې کيښوده نو مخ به يې قبلې خواته وګرځوي، هغه غوټې يې چې لفافې ته د سر او پښو خواته ورکړې هغه به خلاصې کړي، دا ځکه چې د مړي د لوڅېدو خطره نوره ختمه شوه.

دلته که چيرې د قبر د لويدو خطره وه د لحد پخول په خامو يا پخو خښتو ورته جواز شته، نور نو د مړي په قبر باندې د خاورو اچول به د سر د خوانه شروع کړي نو کومې خاورې چې د قبر نه ختلي وي، زياتې خاورې اچول مکروه دي نو که په قبر يوه ليشت جګې راغلې خير دی او د قبر د خاورو اچولو نه پس په قبر باندې اوبه پاشل مستحبه طريقه ده چې خاورې ځان ونيسي[1].

مسئله: چار کنجه د قبر جوړول مکروه دي مستحبه طريقه دا ده چې قبر بايد ماهي پشته جوړ شي چې د ځمکې نه يوه لويشت جګ رانشي[2].

مسئله: د مړي د دفن کولو وروسته لږ ساعت غوندې هلته ايساريدل مستحبه طريقه ده چې هلته لږ غوندې قرائت، دعا د مغفرت ورته وکړي[3].

**متفرقې مسئلې**

مسئله: که حامله ښځه مړه شوه، بچی پکې ژوندی وو ګيډه به يې ورته وڅيري بچی به ترې راوباسي، او که ښځه ژوندی وه بچی پکې مړ شو، د عمليات کولو ورته خطره وه نو هغې لپاره دايي يا بله ښځه راوغوښتل شي چې لاس وردننه کړي، ماشوم ورنه راوباسي[4].

مسئله: کوم وخت چې په قبر خاورې واړول شوې، د مړي ويستل جواز

[1] رواه بحر رايق، درمختار و مراقي الفلاح

[2] رواه مراقی الفلاح

[3] رواه درمختار و ردمختار

[4] رواه درمختار و شامي

ketabton.com - The Digital Library



نلري ها كه د بل چا په ځاى كې ښخ شوى وو هغه نه غوښتل چې دا مړى دلته وي بيا ويستل يې ضروري دي راوباسي به يې بل مناسب ځاى كې به يې دفن كړي.

مسئله: ځانته مخكې كفن تيارول جواز لري ، ليكن د قبر تيارول مكروه دي، ولې چې د دې پته نشته چې زه كوم ځاى مرم، بعضې وايي چې مخكې قبر تيارول هم مكروه ندي، بلكه ثواب لري[1].

مسئله: د مړي د ښخولو وروسته په قبر د شنې ونې درول بدى نلري، ليكن د شنې ونې يا شين بوټي پرې كول مكروه تنزيهي دى، او كه وچ وي فرق نلري[2].

مسئله: د مړي د خپلوانو او همسايه وو لپاره مستحبه طرقه ده چې د مړي د كور والاوو لپاره اول درې ورځې كنه نو يوه شپه او يوه ورځ بايد طعام وركړي[3].

مسئله: كه څوك غواړي چې مړي ته ثواب ورسوي نو هغه دې نفل لمونځ ، نفلي روژه او صدقات خيرات ورپسې كوي، او ثواب دې د هغه روح ته بخښې دلته د وخت تعين ضرور ندى هر وخت يې كولاى شي[4].

فايده: كومه ښځه چې دنيا كې د چا په نكاح وي نو هغه به په قيامت كې هم چې دواړه جنت ته لاړ شي هلته به هم د هغه سړي منكوحه وي، او كه په دنيا كې د ښځې دوه خاوندان وي نو قيامت كې به هغه د آخري خاوند منكوحه وي، بعضې وايي چې ښځې ته به اختيار وركول كيږي، كوم يو چې اختياروي ځانته د ښځې خوښه ده، او كه باكره نجلۍ مړه

---

[1] درمختار و شامي
[2] رواه ردمختار
[3] رواه ملا علي قاري
[4] رواه در مختار و ردمختار

ketabton.com - The Digital Library



شوي وي نکاح يې نه وي کړې نو هغې ته به اختيار هم ورکول کيږي چا سره چې نکاح کوي کولای يې شي.

او که يې انسانانو کې څوک خوښ نشول نو الله پاک به ورته يو نارينه پيدا کړي چې هغه به دا نکاح کوي[1].

فايده: د قبر د زيارت طريقه داده چې کله ورځي د خپل طرف نه به اول کې دا دعا ووايي (السلام عليکم يا أهل القبور وإنا إنشا الله اليکم واردون) بيا چې کوم سورتونه د کلام پاک يې زده وي هغه به ولولي، لکه سورت فاتحه د سورت بقرې اوله حصه تر مفلحون پورې، ايات کرسي، آمن الرسول، سورت ياسين، تبارک الذين، سورت تکاثر، سورت اخلاص درې واري يا اوه وارې ولولي يا يو کرت سورت ياسين ولولي د مقبرې مرده ګانو ته به يې وبښي، ډير کوشش دې وکړي د شرک ويلو نه ډير ځان وساتي لکه اې زيارته !، يا باباجي !، يا اې فلانيه ! دا کار يا مشکل راته ښنګه او ښنګه کړه، نه بايد مونږ هر څه د الله پاک نه وغواړو هغه زمونږ مشکل کشا دی[2].

## د قبر د حالت بيان او مسائل

په حديث شريف کې نبي کريم صلی الله عليه واله وسلم مهرباني کړيده چې قبر د جنت د باغونو څخه يا يو باغ دی يا دا چې د دوزخ د کندو څخه يوه کنده ده.

حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه فرمايلي چې قبر د آخرت د منزلونو لمړی منزل دی چا چې پدې منزل کې نجات پيدا کړو نورو ټولو منزلو کې ورته نجات حاصل دی او که پدې منزل کې څوک پاتي راغلی

---

[1] رواه مجموعه فتاوی بحواله غرايب
[2] رواه درمختار و شامي

ketabton.com - The Digital Library



هغه ټولو منزلونو کې پاتې دی[1].

بل ځای خپله نبي کریم صلی الله علیه واله وسلم فرمایلي چې ما بل منظر د قبر نه زیات د ویرې او هیبت والا بل منظر ندی لیدلی، دا ځکه چې قبر هره ورځ اعلان کوي چې زه د نا آشنایی کور یم، د خاورو، چینچو او ځناورو څخه ډک کور یم، خپل ځان سره د نجات لپاره څه توښه راوړئ.

کله چې یو کامل مومن مسلمان قبر کې دفن کړای شي نو قبر ورته وایي چې ستا راتلل ماته ډیر خوښ او د قدر وړ دي، ځکه چې ستا ګرځیدل پر ځمکه د دنیا ماته ډیر خوښ وو، اوس به د هغې ګرځیدا مکافات او اجرونه وویني نو دا قبر ورته دومره فراخه شي ترڅو چې سترګې یې کار کوي، بیا د جنت دروازې ورته خلاصې او د جنت په نعمتو یې سترګې یخې شي. او که چیرې فاسق او فاجر مړ شي او قبر ته کوز شي نو قبر پرې اواز وکړي چې ستا راتلل ماته سپیره دي او نامبارک دي، دا ځکه چې ته زما په خیټه ګرځیدې او خپل عمر دې ټول په کبر، بعض او بدبختۍ عبث تیر کړ اوس ماته حواله شوې او س به د خپل بدبختۍ نتیجې وویني بیا به پدې بدبخته د ځمکې نیول شروع شي دومره زور به پرې وکړي چې پښتۍ یې یو بل کې داسې ورننباسي لکه څنګه چې د دواړو لاسونو ګوتې یو بل سره ځنځیر غوندې حلقه شي.

بیا به اژدهاران ورباندې مقرر شي، تر قیامته به یې چیچي او ټکونه به ورکوي، نبي کریم صلی الله علیه واله وسلم فرمایلي که چیرې لدې اژدهاګانو نه یو دنیا ته راپوه کړي تر قیامته به ځمکه څه شی شنه نه کړي[2].

حدیث شریف: نبي کریم صلی الله علیه واله وسلم فرمایلي چې د قبر د

---

[1] رواه فضایل اعمال

[2] رواه فضایل اعمال

ketabton.com - The Digital Library



عذاب څخه د بچ کیدلو بهترین عمل د الله پاک ذکر دی چې د قبر د عذاب د بچ کولو لپاره د ذکر نه بهترینه بله وسیله نشته.

بل روایت کې راغلي چې د قبر د عذاب د بچ کولولو لپاره بله وسیله د شپې لخوا د تبارک الذی وظیفه ده[1].

حضرت ابن عمر رضي الله تعالی عنه فرمايي چې يوه ورځ حضور نبي کريم صلی الله علیه واله وسلم زما اوږه ونیوله، ماته يې وفرمايل چې: دنیا کې د مسافر غوندې ژوند اختیار کړه په دنیا کې داسې فکر کوه، چې په لاره روان یم نو دا سفر به خامخا ختموم، سحر کې د ماښام په انتظار اوسي، نو حتمي به د آیندې لپاره د خپل صحت توښه د خپل مرض لپاره تیاروی، دا ځکه چې ستا د صحت توښه د آینده مرض لپاره دوا ګرځي، باید هغه ژوند کې د مرګ نه مخکې تیاره کړي[2].

حدیث شریف دی چې قبر کې زیات مشکلات او عذابونه د متیازو نه سرې ته پیدا کیږي، دا ځکه چې صحرا ګشت کې اکثره خلک د متیازو څاڅکو ته فکر نه کوي، چې هغه تل د ده جامو او بدن ته الوزي، باید چې صحرا ګشت کې ډیر احتیاط وکړي، د متیازو څاڅکو نه ځان وساتي[3].

حضرت براء رضی الله تعالی عنه فرمايي چې یوه ورځ نبي کریم صلی الله علیه واله وسلم يوې جنازې ته لاړو هلته نبي کریم صلی الله علیه واله وسلم د یوه قبر خوا کې کیناست، مبارک دومره وژړل چې ټول مخ مبارک يې پر اوښکو لوند شوو حتی چې مخې ته يې ځمکه په اوښکو لمده شوه، په فصاحت يې وویل چې اې ورونو ! د قبر لپاره تیاری وکړئ چې دا یو

[1] رواه ترمذي او ابن ماجه
[2] رواه مشکوات
[3] رواه اعمال

ketabton.com - The Digital Library



سخت او خطرناک منظر دی[۱].

حضرت بي بي عايشه رضی الله تعالی عنها يوه ورځ نبي کريم صلی الله عليه واله وسلم ته وويل چې اې د الله پاک رسوله ! ته هره ورځ د قبر د عذاب څخه ژاړې او پناه غواړې، دا څه وجه ده؟ نو نبي کريم صلی الله عليه واله وسلم ورته وفرمايل چې اې بي بي عايشې ! ماته دا خطره ده که زه تاته ووايم او د قبر د عذاب نه مو پوه کړم، تاسو به بلکل خپل مړی ښخ نکړئ، د ويرې او خوف د وجې نه که نه نو ما به دعا کړې وه او تاسو ته به می د قبر د عذاب حالات بيان کړی وه[۲].

حديث شريف: نبي کريم صلی الله عليه واله وسلم فرمايلي که چيرې وحشي حيواناتو يا ځناورو ته دومره د مرګ د حالت معلومات وشي لکه څنګه چې تاسو ته معلومات شته او درته شوی ده نو ټول حيوانات به د مرګ د حالت هرې خواته خواره واره شي نو يو به هم په ستړګو ونه وينی.

بل حديث شريف کې راغلي چې تاسې مرګ ډير ډير يادوی دا د ګناهونو د لرې کولو او دنيا سره د بې رغبتۍ بهترينه وسيله ده[۳].

حديث شريف: نبي کريم صلی الله عليه واله وسلم فرمايلي چې هره ورځ د لمر ختلو وخت فرښتې اعلان کوي، چې اې خلکو څومره چې کولای شۍ نن ورځ ځان سره نيک عملونه ذخيره کړئ، دا وخت بيا درته په لاس نه راځي پخپله عملنامه کې ځانته څه وليکۍ.

په همدې شکل دوه نورې فرښتې هر سحر يو اعلان کوي چې اې د نيکۍ طلب کوونکيه ! زيری واخله، وړاندې شه نوره نيکي هم وکړه. دوهمه فرښته اعلان کوي چې د بد عمل کوونکيه ! بد مه کړه، منع شه

[۱] رواه ترغيب
[۲] رواه فضايل اعمال
[۳] رواه احياء

ketabton.com - The Digital Library



خپل ځان ته د هلاکت سامان، توښه او ذخیره مه جوړوه[۱].

یوه حدیث کې راغلي چې په قبر کې د مړو چیغې او واویلا، یو انسان او بل پیریان نه اوري نور ټول ساه لرونکي حیوانات یې اوري[۲].

حدیث شریف: حضرت ابوهریره رضي الله تعالی عنه فرمایي، یوه ورځ نبي کریم صلی الله علیه واله وسلم د قبر خوا کې ناست وو نو ویې فرمایل چې اې خلکو! قبر هره ورځ اعلان درته کوي چې اې د آدم ځویه! تا ولې زه هیر کړم؟ زه د تنهایي کور یم، نا آشنا کور یم، د وخشت او وارخطایي کور یم، د تورې تاریکي کور یم او د قسما قسم چینجیو کور یم، غفلت ونکړې خپل ځان سره یو څه درسره راوړې[۳].

حضرت عثمان رضي الله تعالی عنه یوه ورځ د قبر پر سر درېدلی وو، دومره یې وژړل چې ږیره مبارکه یې ټوله په اوښکو لمده کړه، چا ورته وویل چې اې د الله پاک دوسته! ته ولې دومره ژاړې د دې په عوض ته د دوزخ د نجات او د جنت داخلیدو په حال ولې نه ژاړې، ده ورته وفرمایل چې ما د نبي کریم صلی الله علیه واله وسلم څخه اوریدلي چې قبر د آخرت د منزلونه اول منزل دی که پدې منزل کې څوک کامیاب شو نور باقي اعمالو کې به هغه کامیاب وي او که پدې منزل کې ناکام شو نورو باقي اعمالو کې هغه ناکام دی[۴].

حدیث شریف: خپله رسول کریم صلی الله علیه واله وسلم فرمایلي چې قبر کې مړي داسې حالت کې وي لکه څنګه چې څوک په اوبو کې ډوبیږي او هغه هرې خوا ته لاس او پښې اچوي چې ځانته نجات ورکړي او یا په

[۱] رواه فضایل اعمال
[۲] رواه فضایل اعمال
[۳] رواه فضایل اعمال
[۴] رواه فضایل صدقات

ketabton.com - The Digital Library



دې انتظار وي او س به ما ته څوک لدې هلاکت نه نجات راکړي. همدا سې مړی هم قبر کې د خپل پلار، مور، ورونو او دوستانو د دعا او صدقې ته منتظر وي، چې څوک به ما پسې دعا یا صدقه وکړي، دا ځکه چې دعا او صدقه د دنیا او مافیها نه ورته بهتره او د نجات وړ ده[1].

په فضایل صدقات کې یوه قصه راغلې، چې د یوه بزرګ ورور وفات شوی وو د هغه د تکفین او تهیز وروسته دا بزرګ کورته راځي، څو ورځې وروسته دا بزرګ خوب ویني چې ورور سره خبرې کوي ورته وایي چې وروره ! تا باندې څه حالت تیر شو ، حال راته بیان کړه، ورور یې ورته وویل چې کله زه تا سو دفن کړم او تاسو رانه لاړی پدې وخت کې زما خوا ته یوه هیبت ناکه د اور شعله راروانه وه، پدې وخت دوستانو نه یوه دوست زما په حق کې د مغفرت دعا وکړه الله پاک هغه د اور شعله د هغې د دعا په برکت رانه دفع کړه[2].

حضرت ابن عمر رضي الله تعالی عنه فرمایي چې یو شخص نبي کریم صلی الله علیه واله وسلم نه پوښتنه وکړه چې زیات محتاط (هوشیار ) څوک وي، نبي کریم صلی الله علیه واله وسلم ورته وفرمایل چې څوک مرګ ډیر یادوي او د مرګ لپاره تل تیاری کوي پکې مصروف وي نو داسې خلک تل په دنیا کې په دنیوي شرافت کې وي او د آخرت اکرام (عزت ) حاصلوونکی وي[3].

ځینې خوش نصیبه خلک شته چې په قبرو کې مزې کوي، تر او تازه مخو باندې په راحت او آرام کې دي، دا هغه خلک دي چې ده پدې دوکه باز کور کې (دنیا ) د هغه کور لپاره توجه وه هغه یې یاد وو لدې امیدونو

[1] رواه فضایل صدقات
[2] رواه فضایل صدقات
[3] رواه ترغیب

ketabton.com - The Digital Library



نه يې د هغې اميدونه مقدم کړي وو خپل ځانته يې څه توښه جمع کړي او د رسيدو مخکښې يې ځان لپاره د نجات لاره پيدا کړه.

نو اې انسانه ! چې صبا ته قبر ته ځې، آيا تاته دا اميد دی چې دا بې وفا دنيا به تاسره پاتې کيږي؟ آيا تاته دا اميد دی چې ته به دنيا کې تل ژوندی پاتې کيږي؟ ستا دا ښکلی مکان، ښکلي باغونه، ښکلی ژوند، نرمې بسترې او نور د عيش او نوش سامان به رانه پاتې شي او کله چې ملک الموت راشي دا به مې د خلاصون وسيله وګرځي، او که د ځنکدن په سختۍ به اړخ په اړخ بدليدلی پاتې شم.

افسوس صد افسوس اې هغه انسانه ! چې نن ورځ د مرګ په وخت کې د خپل ورور سترګې پټوې، د خپل ځوی سترګې پټوې، د خپل پلار سترګې پټوې او په دوی کې څوک لمبوې، چاته کفن ورکوې، د چا سره په جنازه روان يې، څوک د قبر کنده کې اچوې، صبا په تا هم دا ټول شيان راتونکي دي، بيا هم اې انسانه ! ته پداسې شي خوشحاليږې چې هغه ژر درنه فنا کيدونکی دی او په اوږدو اوږدو آرزوګانو او د دنيا په اميدونو کې مشغول يې؟ اې بې وقوفه ! څوک دې د خوب په لذتونو کې نه دوکه کيږي، او ستا ورځ ټوله په غفلت کې تيريږي او مرګ درباندې سور دی، نن ته هغه کار کوې چې صبا ته به په هغه غم کوې او په دنيا کې د خارويو غوندې ژوند تيروې[1].

حضرت اسامه رضي الله تعالی عنه يوه وينځه په قرض واخيستله، او د قيمت آدا کول يې يوه مياشت وعده ورکړه، کله چې نبي کريم صلی الله عليه واله وسلم خبر شو په تعجب يې وفرمايل چې اسامه تر يوې مياشتې پورې يوه وينځه په قرض اخيستي ده، او اسامه ته د خپلې زندګۍ لوی اميد پيدا شوی دی، زما دې قسم په هغه ذات وي چې زما ساه د هغه په

[1] رواه فضايل صدقات

ketabton.com - The Digital Library



قبضه کې ده ماته خو د سترګې د رپ پورې هم د خپلې ژوندګۍ یقین نشته، یا د اوبو څکلو پیاله اوچته کړم، او ماته د خپل ژوند کله چې یوه مړۍ ډوډۍ خولې ته کړم د هغې د تیریدو یقین نلرم، نو اسامه رضي الله تعالی عنه یې مجبور کړو ورته یې وفرمایل که نقدې روپۍ لرې ور یې کړه او که نقدې روپۍ نلرې نو وینځه ورته واپس کړه، ورباندې واپس یې کړه[1].

عمر بن عبید رحمه الله تعالی وایي چې ابو شعیب بن زیاد مریض وو زه د هغه پوښتنې لپاره ورغلم، چې د هغه د ځنکدن حالت وو، نو ده ماته وویل چې زه تاته یوه خوشخبري درکوم، زه دلته یو نا آشنا سړی او نا آشنا ښکلی سړی وینم نو ما چې پوښتنه ورنه وکړه چې ته څوک یې؟ نو هغه راته وویل چې زه ملک الموت یم، نو ما ورته وویل چې ما سره به د نرمۍ سلوک کوې نو هغه راته وویل چې ماته هم دا حکم شوی دی چې دې سره به ښه سلوک کوی نو زه به هم د نرمۍ سلوک درسره وکړم.

ابو حکیم خیری رحمه الله تعالی ناست وو څه یې لیکل په لیکلو کې یې قلم د لاسه وغورځیده ویې ویل که چیرې دا سې مرګ وي په الله پاک مې د قسم وي چې دا ډیر ښه مرګ دی دا یې وویل او وفات شو.

## د حضرت سلیمان علیه السلام کیسه

یوه ورځ حضرت سلیمان علیه السلام چیرته تشریف فرما وو، مرغانو یې په سر د چترۍ په شکل چتر جوړ کړی وو، سیوری یې پرې کړی وو تخت یې په هوا پیریانو او دیوانو نقلاوه شاو خوا ته انسان او پیریان روان وو، پر لاره کې یو عابد د الله پاک په ذکر مشغول وو چې سلیمان(ع) یې ولیدو ویې ویل: یا الله تا څومره غټه پادشاهي ورکړیده، چې سلیمان علیه السلام دې د دنیا په ټولو انسانانو، پیریانو او مرغانو

[1] رواه فضایل صدقات

ketabton.com - The Digital Library



حکومت ورکړی ده، کله چې سلیمان علیه السلام د عابد دا وینا واریده نو پیریانو او دیوانو ته یې وویل چې صبر وکړی، ما کوز کړي نو سلمان علیه السلام ورته وفرمایل چې اې عابده! چې کوم مسلمان یو ځل سبحان الله ووایي د هغه په عملنامه کې د هغه لپاره د سلیمان د دې لوی پادشاهي نه غوره او اوچت ثوابونه او اجرونه دي، زما دا لویه پادشاهي ختمیږي، او ستا سبحان الله تر ابده باقي ده،

د حضرت ابراهیم علیه السلام په صحیفه کې دي چې اې دنیا ته ثومره ذلیله او بدبخته یې چې د الله پاک د نیکو بندګانو لپاره خپل ځان ښایسته کوې، نو ما د خپلو بندګانو زړو کې ستا دشمني اچولي ده او له تانه مې د هغوی مخ اړولی دی، زما یو مخلوق له تا څخه زیات ذلیل ندی پیدا کړی، نو ستا دا ټول زیب او زینت بې کاره او ختمیدونکی دی نو ما ستا په ارتباط ستا د پیدا کیدو په ورځ دا فیصله کړی ده چې ته به همیش د چا په اختیار کې نه یې او نه همیش تا سره څوک وا وسي څومره چې څوک تا سره بخل وکړي هغه نیک دی، او هغه نیک بندګان چې قلباً زما په فیصلو راضي دي، او زما په احکامو باندې پابند دي د هغوی لپاره خوشحالي ده، کله چې دوی هغه وخت د خپلو قبرونو نه راوچتیږي زما سره د دوی یوه رڼا امانت ده هغه به د دوی مخکې اینښوول کیږي، ښۍ او چپې خواته به یې فرښتې وي، حتی چې زه به د دوی ټول امیدونه ورته پوره کړم.

حدیث شریف: د نبي کریم صلی الله علیه واله وسلم مبارک ارشاد دی، هغه فرمایي چې خوشبخته کس هغه دی چې دې خپل نفس د الله تعالی د رضا د کارونو لپاره جوړ کړي او د مرګ نه پس په کار راتلونکی عملونه وکړي بدبخته او کم عقله شخصی هغه دی چې هغه د خپل نفس د خواهشاتو تابعداري کوي، او د الله پاک نه امیدونه تړي[۱].

---

[۱] رواه ترمذي، مشکوات او ابن ماجه

ketabton.com - The Digital Library



ابو عثمان نهدی رحمه الله تعالی فرمایي چې ما حضرت عمر رضي الله تعالی عنه په منبر باندې ولیدو چې خطبه یې ویله او ما د ده د کمیس پیوندونه وشمیر دولس پیوند ه ورته لګیدلي وو.

## هر مسلمان باید امیدونه مختصر وساتي

نبي کریم صلی الله علیه واله وسلم فرمایلي چې دنیا دار داسې یو مثال لري لکه څرنګه چې یو سړی په اوبو روان وي منزل کوي نو پدې به د چا یقین وي چې دې د اوبو د پاسه روان وي، او د ده پښې لمدې نشي؟.

حدیث شریف: نبي کریم صلی الله علیه واله وسلم فرمایلي چې د بوډا سړي زړه همیش دوه شیان ځوان ساتي چې هغه اول د دنیا په محبت کې دوهم د آرزوګانو او امیدونو په اوږدولو کې[1].

فقه ابو لیث سمرقندی رحمه الله تعالی فرمایي چې څوک خپل امیدونه مختصر ساتي الله پاک د هغه څلور اکرامه کوي:

۱. په خپل اطاعت کې هغه ته پوره قوت ورکوي.
۲. د هغه غم کم شي.
۳. هغه ته په لږه روزي کې قناعت حاصلوي.
۴. او د هغه زړه منور یعنې روښانه کوي.

**علماء کرامو فرمایلي چې پر زړونو کې نور (رڼا) څلور شیان پیدا کوي:**

۱. خالي خیټه باندې چې کم خوري.
۲. د نیکو خلکو سره ناسته کې.
۳. د تیرو شوو ګناهونو یادولو کې.
۴. د امیدونو مختصر کولو کې.

[1] رواه متفق علیه ؟؟؟؟

ketabton.com - The Digital Library



**او هغه څوک چې بیا خپل امیدونه اوږده اوږده ساتي نو الله پاک هغه په څلور قسمه عذابونو اخته کوي:**

۱. د ده په عبادت کې سستي پیدا شي.
۲. د دنیا غم پرې ډیر بار شي.
۳. د مال جمع کولو او زیاتولو فکر پرې هر وخت غالب شي.
۴. زړه یې ډیر سخت شي.

**علماء کرامو بیا لیکلي چې د زړه سختي څلور شیان پیدا کوي:**

۱. زیات موړ والی (ډیره خواړه کول).
۲. د بدو مجلسونو نه.
۳. د ګناهونو یادولو نه.
۴. او ګډو امیدونو پیدا کولو نه.

دلته بیا نبي کریم صلی الله علیه واله وسلم حضرت عایشې رضي الله تعالی عنها ته فرمایلي چې: که ته ما سره په قیامت کې او سیدل غواړې نو په دنیا کې داسې وخت تیروه لکه څنګه چې یو مسافر په سورلۍ روان وي، او هغه چیر ته لږ غونډې ایسار شي. بل به د مالدارانو نه ځان ساتې، او خپلې جامې تر هغه وخته آغونده چې په هغه کې ترڅو پیوندونه لګیږي[1].

د آیات شریف مفهوم دی الله پاک فرمایي چې کوم مرګ نه تاسو تیښته کوی نو هغه به خامخا تاسو راګیروي بیا به تاسو هغه پاک ذات سره مخامخ کیږئ چې هغه ستاسو ټولو پټو او ښکاره خبرو نه واقف دی، بیا به هغه در ته ستاسو کړل شوي کارونه وبخښي او د هغه بدله به ضرور درکوي.

امام غزالي رحمه الله د ګل په ورځ سحر کې خپل لمونځ ادا کړو بیا یې خپل کفن راوغوښته شکل یې کړو، په سترګو یې کیښوده او ویې

[1] رواه تنبیه الغافلین

ketabton.com - The Digital Library



فرمایل چې اوس زه د خپل پادشاه په خدمت کې د حاضری لپاره ډیر خوشحاله یم، او حاضر یم، مبارک دا وویل مخامخ قبلې ته ثملاست مخ یې قبلې ته واړوو او ځان یې حق ته تسلیم کړو[۱].

حضرت بلال رضي الله تعالی عنه کله چې وفات کیده ښځې ورته وویل های افسوس ته رانه ځې، هغه مبارک ورته وویل چې څومره د مزې خبره ده، او د الله پاک څومره لطف او کرم خبره ده چې زه به صبا ته د خپلو دوستانو سره ملاقات لپاره حاضریږم، د خوږ نبي کریم صلی الله علیه واله وسلم او د هغه مبارک ګرانو او نږدې ملګرو سره به میلاویږم[۲].

ربیع رحمه الله فرمایي چې یوه عابد بصره کې دا خبره وکړه چې یو شخص وفات کیده خلکو ورته د لا اله الا الله تلقین کاوه او د هغه ژبې نه به وتل چې: ته د دې شرابو څخه هم وڅښه، یو ګیلاس خو وڅښه ما هم وڅښل، ته یې هم وڅښه. افسوس افسوس د داسې کسانو په حال.

د حضرت ممشاد (رح) د وفات په وخت یو بزرګ څنګ ته ناست وو، بزرګ ورته د جنت د میلاویدود دعا وکړه، په خندا وفرمایل ورته چې دا دیرش کاله متصل ماته جنت د ټولو زینتو سره ما مخې ته راتلو نو ما یو وارې هم ورته پوره کتلي ندي.( زه د جنت د مالک مشتاق یم)[۳].

په اخر کې به د حضرت ابراهیم علیه السلام دا دعا وکړو: (ای پروردګاره ! ماته، زما مور او پلار ته او ټولو مؤمنانو ته د حساب او کتاب وخت ښښنه وکړی[۴]. امین یا رب العالمین.

---

[۱] رواه فضایل صدقات

[۲] رواه فضایل صدقات

[۳] رواه احیاء

[۴] سورت ابراهیم ۴۴

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

## ځما ترتیب شوي کتابونه

۱- د سعادت خزانه
۸- پاکوالی په اسلام کې
۲- د فضائلو خزانه
۹- شمائل ترمذی
۳- د مونځونو فضائل
۱۰- د حج او عمرې لارښود
۴- د کلمې شریفې او کلام ربي فضیلتونه
۵- د حج خزانې
۱۱- رهنمای حج و عمره
۶- د زکات او صدقې فضائل
۱۲- عقبی ته سفر
۷- ښځه په ټولنه کې
۱۳- ځوان نسل لپاره لارښوونه

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*